غوره صفتونه چې د نورو په وړاندې د يو
چا د اعتبار او درناوی لامل کيږي.

شريعت: طريقه، لاره

شفاهي: په خوله کې، وينايي

شنار: شوم، نامبارک، ننگ او عار ...

شهامت: زړورتيا

شهزی: د پاچا لور

((ص))

صحه: تاييد، لاسليک

صلاح: وړ او مناسب، گټور

((ط))

طريقت: لاره، د نفس د تزکيې له لارې د حقيقت د ترلاسه کولو سلوک، مسلک،

طنز: په شعر يا نثر د ادبي بيان لار چې پکې فردي او ټولنيز عيبونه او نيمگړتياوې په خندونکي ډول برسېره کيږي. موخه يې د بشري چلن سمول وي.

((ظ))

ظلمت: تياره

((ع))

عار: شرم

عارف: هغه ثوک چې د رياضت، د نفس د تزکيې او تفکر له لارې خدای پېژني

عاصي: گنهکار

عبقريت: پياوړتيا، له هرې لارې بشپړتيا

عرفان: د خدای د معرفت لاسته راوړل د رياضت، د نفس د تزکيې او تامل له لار پلټنې.

عسس: څوکيدار، (په ځانگړې توگه د شپې له خوا)

عطف: تړونی

((غ))

غبرگ: ورتاوول

غبرگون: عکس العمل

غچ: بدله، انتقام

غرج: غرجستان

غرور: لويي

غندې: غندل، بد ويل

((ف))

فرهنگ: د دود او دستور، فکر، هنر او د ژوند د لارې پېچلې ټولگه (مجموعه) چې د ولسونو په تاريخي بهير کې تجربه شوې او نورو نسلونو ته د لېږدېدنې وړ



(c) ketabton.com: The Digital Library

